مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

اکبر بری

۲۰۲۱/۰۱/۰۲

# نخاګره

دا چــي مــخــي تــه ستا ناځي
د چا لــور ده د چـــا خــور ده
د کــوم پــلار د زړګــي سـر ده
د چـا مــور دستــرګـوتــور ده
ګوره سپک مــه ورتــه ګوره
دا نـــجـلی د درانـــه کـــور ده
هسي نـــن لـــه بـــدي ورځـــي
سپکه سپانده پــه هــرلـــور ده
کور دي رنګ د مجبوری شي
چـــي د هـــري سپکي مور ده
کــنــي خــدای چي ښه خبره
دا پــه شـــرم پــه پــښغور ده
ګوره سپک مـــه ورته ګـــوره
دا نـجـــلی د درانـــه کـــور ده
دا چـــي مـــخـــي ته ستا ناځي
د چا لـــور ده د چا خور ده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ